نظر محمد مطمئن
۲۰۱۷/۰۴/۰۲

# په کابل او مزار کې څه روان دي

چارواکي لا هم د فیل په غوږ کې ویده دي، ګډوډۍ دومره زیاته شوې، چې د کابل هر ټکسي چلونکي سره کښېنۍ، د امنیت ، فساد او په هیواد کې د پردیو د لاسوهنې خبرې درته کوي.

په هر دوکان ، خوړنځی او مارکیټ کې چې خلک وګورئ، د امنیت ، فساد، اختلاس او د پردیو لخوا پر مهمو چوکیو د ټاکل شوو بهرني تابعیت لرونکي افغانانو په اړه بحث کوي.

داخبره هم کیږي چې د دولت مشر غني، اجرایه مشر عبدالله عبدالله او د کابینې د ګڼو وزیرانو کورنۍ په بهر هیوادونو کې ژوند کوي، په جګړه کې د غریبو افغانانو زامن وژل کیږي.

ځینې مهمې ننګونکې اړ پیښې دي، غواړم یو په یوه ورته اشاره وکړم.

۱ - د ډیورنډ اړوند څرګندونې او اغزن تار

په دې وروستیو وختونو کې د پاکستان پوځي چارواکو ویل چې دوی د ډیورنډ لیکې په ځینو سېمو کې د اغزن تار نصب کول پیل کړي، او په دې سره غواړي چې افغانستان ته د دوی په اصطلاح د ترهګرو د اوښتلو مخه ونیسي.

دا ډول د ننګرهار او کنړ ولایتونو د ډیورنډ لیکې ته نږدې سېمو کې د پاکستاني پوځیانو لخوا نږدې هره ورځ راکټونه را ویشتل کیږي، او د یادو ولایتو ځینو قومي مشرانو ویل چې پاکستاني پوځیان د ډیورنډ لیکې د افغانستان لورته په لس هاوو کیلو متر را ننوتي او زموږ خاوره یې نیولې ده.

د افغان حکومت لخوا غبرګون سوړ او ناهیلي کوونکی وو، له دې هاخوا د پاکستان د ولسي جرګې غړي او سیاستوال شاه جي ګل افریدي ویل چې د افغان حکومت اجرایه مشر عبدالله عبدالله منلي چې دوی د ډیورنډ فرضي کرښه په رسمیت پیژني.

له دې وروسته د افغانستان د ولسي جرګې غړي عبدالطیف پدرام ویل چې دی او ګوند یې غواړي ډیورنډ فرضي کرښه په رسمیت وپیژندل شي.

پر ډیورنډ کرښه د پاکستان لخوا راکټي بریدونه، د اغزن تار درول او د افغان چارواکو څرګندونې د افغان ولس لخوا په پراخه کچه وغندل شوې.

ښکاري چې ګډ حکومت پر ډیورنډ کرښه معاملې ته چمتو شوی، د امریکا، بریتانیا او پاکستان ګډې اجنډا او پلان د عملي کېدو لپاره کار کوي.

۲ - په مزار ښار کې د  دولت مشر غني لخوا عطاء محمد نور ته درناوی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د ۱۳۹۵ تعلیمي کال د پیل مراسم دولت مشر غني په اماني لیسه کې درلودل، او هلته یې د لیسي استادانو ته وویل چې زه مشروط شوی یم، ماته وخت راکړئ، په تیر یوه کال کې ډاډه نه وو چې د مشروط کیدو څخه به کامیاب شي، له همدې امله یې دا ځل د تعلیمي کال د پیل مراسم د اصلي نیتې څخه یوه ورځ وروسته په مزار شریف کې بهانه او د عطاء محمد نور درناوي او سیاسي معاملې هوکړې لپاره مزار ښار ته ورغی.

دمراسمو په وخت کې دولت مشر غني د هندوانو او بودایانو په ډول، په تالار کې ناستو افغانانو او عطاء محمد نور ته درناوی (رکوع) وکړ، چې د افغان ولس له سخت غبرګون سره مخ شو، دا ډول د افغان کلتور مخالف درناوی، او له عطاء محمد نور سره د ډاکټر غني سیاسي معامله په پراخه کچه وغندل شوه.

ویل کیږي چې یو ډول عطاء محمد نور تر اقتصادي فشار لاندې نیول شوی وو، دهغه د شرکتونو د جوازونو نوي کیدل ځنډول شوي وو، او د دولت مشر په غوښتنه یې پانګه د دوبۍ په بانکونو کې د لنډ مهال لپاره کنګل شوې وه، عطاء محمد نور مجبوره وو چې د دولت مشر سره سیاسي معاملې ته زړه ښه کړي.

ځیني سیاستوال بیا اندیښنه لري چې کیدای شي د شمال ټلوالي همدا تګلاره وي، چې یو ځل مارشال فهیم رامخکې شو، د دفاع وزیر او بیا وروسته د پخواني ولسمشر کرزي لومړی مرستیال وو، خپلو خلکو او ډلې ته یې ډیر زیات امتیازات ورکړل او کار یې ورته وکړ، له هغه وروسته ددې ډلې څخه احمدضیاء مسعود او یونس قانوني را مخکې شو، احمد ضیاء مسعود د پخوانی ولسمشر لومړی مرستیال او قانوني د ولسي جرګې مشر وو، خپلو خلکو او ډلې ته یې امتیازي کار وکړ.

کله چې د کرزي دوره ختمیدونکي وه، بیا همدې ډلې ډاکټر عبدالله عبدالله را مخکې کړ، او هغه هم د خپل وس مطابق یادې ډلې او خپلو خلکو ته امتیازات وغوښتل او کار یې ورته وکړ، اوس چې د عبدالله عبدالله وخت په پوره کیدو دی، ځیني سیاستوال فکر کوي، چې ځای عطاء محمد نور ته پریږدي، تر څو یادې ډلې او خلکو ته کار وکړي.

۳ - د ولسي جرګې لخوا د امنیتي ادارو مشرانو ته د باور رایه

په کابل کې د سردار محمد داوود خان پر نظامي روغتون باندې برید چې کلک امنیتي تدابیر پکې نیول شوي، پرته له مکتوب څخه د دفاع وزارت کارکوونکو ته هم د ننوتلو اجازه نه ورکول کیږي، هلته د وسلوالو ننوتلو او برید کولو اندیښنې او پوښتنې راپورته کړې.

د ولسي جرګې غړو په اکثریت د رایو سره پریکړه وکړه چې د دفاع وزیر، د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت مشر د یادې پیښې د سپیناوي لپاره استیضاح کړي.

دولت مشر غني د ولسي جرګې غړو ته په ارګ کې دناستې پر مهال ګوت څنډنه وکړه، که د یادو امنیتي ادارو مشران بې واکه کړي، ولسي جرګه به غیرقانوني او منحل اعلان کړي، د دولت مشر غني او ولسي جرګې د لومړي مرستیال ډاکټر همایون ترمنځ خبره لفظي شخړې ته رسیدلې وه.

له سیاسي پټې معاملې وروسته ولسي جرګې یادو دریو مهمو امنیتي چارواکو ته بیاځل د باور رایه ورکړه، چې د ولسي جرګې دغه ډول کړنه او ډاریدنه د افغان ولس او په ځانګړې ډول د ځوانانو لخوا سخته وغندل شوه.

په ورته وخت کې د هلمند د سنګین ولسوالي سقوط د طالبانو په لاس پر افغان حکومت نیوکې هغه وخت لا زیاتې کړې، چې د ناټو الوتکو د یادې ولسوالی اړوند ټولې ودانی د بمبارد په وسیله ونړولې، او داسې یو عمل چې فکر کیږي، بیا ځل یې افغان حکومت له بیرته نیولو څخه نهیلی شوی.

۴ - په انځوریزو رسنیو کې نیمه بربنډې نجوني او سریالونه

د نوي کال په پلمه په کورنيو او دولتي تلويزون کې سندرغاړي ميرمني د افغان دود پر خلاف په داسي جامو کې ليدل شوي چې د خلکو غوسه يې راپارولي ده، دا ځل ويل کيږي تر پخوا سندرغاړي ډيري په نيمه بربنډو جامو کې په تلويزونو کې ليدل شوي دي. په دي کتار کې ويل کيږي چې خورشيد او يو تلويزون تر نورو مخکې وو.
دا ډول د کابل ښار په دريو مهمو او له ګڼې ګوڼې ډکو ځايونو کې د اشتهار په ډول د نيمه بربنډې ميرمن انځورونه ځوړند شوي وو.
امنيت شورا د علماوو يوه ډله خپل دفتر ته غوښتي وه، او له هغوی څخه يې د مرستې غوښتنه کړې وه، تر څو د جمعې په خطبو او خپلو نورو وينااو کې د افغان حکومت څخه ملاتړ اعلان او له خلکو هم وغواړي چې د حکومت ملاتړ وکړي.
د علماوو د ډلي ځينو کسانو د امنيت شورا مشرانو ته ويلي وو، چې کله په تلويزونو کې نيمه بربنډې ميرمنې ليدل کيږي، فحشا ته پيغلې او ځوانان تشويق کيږي، د کابل ښار په ګڼه ګونه ځايونو کې د ميرمنو نيمه بربنډ انځورونه ځوړوند وي، موږ به افغان ولس ته په کومه خوله د افغان حکومت سره د ملاتړ خبره وکړو، اصلاً افغان حکومت په لوی لاس خلک خپل مخالفت ته هڅوي، په دغسي يو حالت کې ستاسي لخوا د علماوو د مرستې غوښتنه ناسمه ده، نه خو موږ علماء ستاسي ملاتړ کولای شو او نه هم ولس ته ويلای شو، د ولسمشريزو ټاکنو پر مهال مو د دولت مشر غني ملاتړ وکړ، هغه مو مسلمان کړ، او له خلکو مو دهغه ملاتړ وغوښت، هغه ژمنه کړې وه چې د ارګ او مسجد ترمنځ به واټن کم کړي، مګر په لوی لاس دغه واټن لا زيات شو.
۵ - د حزب اسلامي سره د سولې مذاکراتو پڅوالی
تر ډيره په افغان دولت نيوکه کيږي چې له حزب اسلامي سره د سولې د هوکړې په عملي کولو کې پڅ دی، او هغه ژمني چې کړي يې دي، اوس ورڅخه ځان وباسي.
حزب اسلامي غواړي چې د دوی د بنديانو ډله له بند څخه خلاص شي، د پيښور له شمشتو کيمپ څخه راتلونکو افغان مهاجرو ته استوګن ځايونه غواړي، دا ډول کابل ښار ته د ښاغلي حکمتيار د راتګ لپاره دولتي شاندار مراسم غواړي.
حزب اسلامي غوښتل چې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر پر اوومه نيټه په کابل کې لويه غونډه جوړه کړي، افغان حکومت يي مصارف ونه منل، او هغه غونډه لغوه اعلان شوه، حزب اسلامي تر ۴۰۰ د زياتو بنديانو خوشي کيدل غوښتي، افغان حکومت ورته ويلي چې له څيړنو وروسته ورته معلومه شوې چې حکومت ته په ورسپارل شوو لستونو کې يواځي ۶ تنه د حزب اسلامي غړي، او په ټوله کې ۶۰ تنه داسي دي چې کورنی يې له حزب اسلامي سره اړيکي لري، نور پاتي کسان د حزب اسلامي غړي نه دي، بيا هم افغان حکومت ژمنه کړې چې د حزب اسلامي نږدې۴۰۰ کسان به ورته خوشي کوي.
افغان حکومت هغه وخت د حزب اسلامي سره د هوکړې له ژمني لا زيات په شا شو، چې کله جمعه خان همدرد او د ښاغلي حکمتيار زوی د دولت مشر د لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم سره ليدنه وکړه.
اوسمهال چې د د دولت مشر او لومړي مرستيال تر منځ شخړې رواني دي، په دغسي يو حالت کې د دوستم سره دحزب اسلامي دکسانو ليدني ډاکټر غني به غوسه کړي او يا هم لږ تر لږه اندېښمن کړی وي.
او کله چې د دولت مشر او عطاء محمد نور تر منځ د نوي ايتلاف خبره وشوه، داسي ښکاري چې د حزب اسلامي سره د سولې پر هوکړه ليک به يي تاثير کړی وي، دولت به اوس د يادي هوکړې عملي کولو ته د پخوا په ډول ليوالتيا ونه لري.

که دحزب اسلامي او افغان دولت تر منځ د سولې هوکړه له ستونزو سره مخ کیږي، کابل ته د ښاغلي حکمتیار په راتګ کې ستونزې جوړیږي، دا به د سولې په اوسنیو او راتلونکو پروسو ناوړه اغیز ولري.

۶ - د ماسکو غونډه

په ماسکو کې د افغان سولې اړوند دوه غونډې شوې، یوه د ۲۰۱۶ کال په ډسمبر کې او بله هم د ۲۰۱۷ کال په فبروري کې وشوه، په لومړۍ غونډه کې ماسکو، چین او پاکستان ګډون درلود، په دوېمه غونډه کې ماسکو، چین، پاکستان، هند، ایران او افغانستان ګډون درلود.

کیدای شي د اپریل پر ۱۴مه نیټه په ماسکو کې د افغان سولې اړوند دریمه غونډه هم وشي، ۱۲ هیوادونو ته د ګډون بلنه ورکول شوې، امریکا بلنه رد کړې، افغان حکومت خپل دریځ نه دي روښانه کړی، ویل کیږي چې ممکن طالبانو ته هم دا ځل د ګډون بلنه ورکول شي.

ماسکو، چین، ایران او پاکستان لګیا دي چې سمسیزه اجماع رامنځته کړي، هند له دې کبله څنډې ته دی، چې له چین او پاکستان سره ستونزې لري، که هند هم په یاده اجماع کې ورګډ شي، د امریکا لپاره په راتلونکې کې په اقتصادي او نظامي برخو کې ننګونې راپیداکولای شي.

پاکستان په دې برخه کې غواړي چې امریکا ته وښیي که د پاکستان غوښتنې او د پاکستان لپاره په سېمه کې نفوذ او امتیاز ونه مني، له روسانو سره به ملګرتیا پیل کړي، او پاکستان دا هڅه هم کوي چې د ماسکو او عربي نړۍ ترمنځ سیاسي اړیکې جوړې کړي.

که امریکا د ماسکو په غونډه کې ګډون ونه کړي، دابه پر امریکا د افغان ولس باور د سولې په برخه کې لا زیانمن کړي، داسې ښکاري چې امریکا په افغانستان کې د جګړې اوږدیدو ته لمن وهي، او غواړي چې دلته په سېمه کې جګړه روانه وساتي، تر څو چین او ماسکو د افغانستان له خاورې تهدید او په افغانستان کې خپلو نظامي اډو ته بهانه له ځان سره ولري.

۷ – په حکومت کې دننه اختلافات

د حکومت د ننه اختلافات هم له چا څخه پټ نه دي، د دولت مشر او دهغه د لومړي مرستیال ترمنځ اختلافات او ناندرۍ، د دولت مشر او اجرایه مشر ترمنځ ناندرې او ګیلې، د دولت مشر او ولسي جرګې ترمنځ لفظي شخړې او ستونزې.

د امنیت شورا او شمال ټلوالې ترمنځ ستونزې، په دفاع وزارت کې د پښتون، تاجک او ازبک قومونو ترمنځ قومي تعصب او د رتبو ورکولو په سر ناندرۍ او پراخ مالي فساد.

په ټوله کې هغوی چې د ډاکتر نجیب الله په وخت کې يي په کابل کې دندې تر سره کړي، د نن ورځې حالت کټ مټ د ډاکتر نجیب الله د حکومت د مهال سره ورته بولي.

۸ - په واک کې د پخوانیو چپیانو زیاتوالی

ډیری پخواني مجاهدین او افغان وګړي فکر کوي چې واک په لوی لاس پخوانیو چپیانو ته سپارل شوی، د دولت مهمي چوکۍ هغوی ته ورکول شوې او د پریکړو پر مهال د پخوانیو چپیانو نظر وروستی ګڼل کیږي.

پخواني چپیان هڅه لري چې خپل د پخواني پرچم ګوند کسان واک ته ورسوي، او په راتلونکو ټاکنو کې په پراخه کچه ګډون وکړي، تر څو خپل واکونه لا زیات کړي، هڅه یې داده چې د ۲۰۱۹ کال ټاکنې او یا هم ۲۰۲۴ کال ټاکنې وګټي او خپل د پرچم ګوند غړی یې ولسمشر شي.

۹ - د نړیوالو کمه توجه او نه لیوالتیا
امریکا او نړیوالي ټولني ته افغنستان اوس مهال په څلورم کتار کي ځای لري، عراق، سوریه او اوکراین ورته لومړیتوبونه لري.
د ټرمپ اداري د افغانستان په اړه تګلاره روښانه کړي نه ده، ولي فکر کیږي چي په افغانستان او ډیورنډ کرښي دواړو لورو ته به د امریکا د بي پیلوټه الوتکو بریدونه زیات شي، دا ډول به په کور دننه هم د امریکا لخوا طالبان تر بمبارد لاندي راشي، او هڅه به وکړي چي طالب مشران په نښه او له منځه یې یوسي.
۱۰ - د ارګ په ګډون په کابل او ولایتونو کي پراخ فساد
ډیری کسان نیوکه لري چي په ارګ کي د تدارکاتو کمیسون چي د هیواد په کچه د لویو پروژو قراردادونه له ودانیزو او نورو شرکتونو سره کوي، پراخ فساد پکي کیږي، او تر ټولو زیاته نیوکه د خطیب العالمي په نوم شرکت باندي کیږي  چي د دولت مشر د لبناني اخشیانو دی، دا ډول په وزارتونو او ولایتونو کي د فساد کچه د پخوا په نسبت زیاته شوې، مخامخ له یو کس څخه د کار د اجراء لپاره پیسي غوښتل کیږي، له همدې امله ده چي په دې وروستیو کي په کابل کي د اروپایي ټولني سفیر ښاغلي میلیبن وویل چي په افغان حکومت او په ځانګړې ډول په قضاء او څارنوالي کي د فساد له امله خلک خپلي دعوې د طالبانو محاکمو ته وړاندي کوي.
د فساد او اختلاس په برخه کي یوه بله اندیښنه داده چي افغان حکومت د افغانستان بانک کي  د پولي واحد د  تقویه کونکو پیسو او سرو زرو په اړه  معلومات پټ ساتلي دي، ولس او سوداګر دې کار په اندیښنه کي اچولي، داسي نه چي په یاده برخه کي هم فساد شوی وي.
د مخابراتو وزارت لخوا د ټلیفوني ۱۰ سلنه محصول د غلا او نامعلوم برخلیک اړوند هم اندیښني شتون لري، هیڅوک نه پوهیږي چي دافغان ولس څخه هره  ورځ په میلیونو افغانۍ د محصول په نوم اخیستل د کومو چاړواکو جیبونو ته لویږي.
۱۱ - د لا زیاتو بهرنیو ځواکونو  غوښتنه
دولت مشر غني د ټاکنو پرمهال ژمنه کړي وه چي سوله ورته لومړیتوب لري، ارګ ته له رسیدو سره سم یي له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ، او ویې ویل چي لومړیتوب ورته امنیت، اقتصاد او بیا په دریم قدم کي سوله لري.
د سولي لپاره د طالبانو مهمه او لومړۍ غوښتنه د بهرنیو پوځیانو د وتلو د مهالویش اعلان دی، ولي افغان حکومت بیا ددې پرځای چي د بهرنیو پوځیانو د وتلو د مهالویش سره توافق وکړي، د لا زیاتو او نورو بهرنیو پوځیانو راتګ هیواد ته غواړي، چي دغه مسئله په افغانستان کي جګړه ګرموي، او جګړې زیاتوي.
پورته مسایلو ته ورته په لسګونو نور داسي مسایل شته چي افغان ولس یي له ستونزو سره مخ کړی، که په افغان ولس درمند افغانان په کور دننه او کور دباندي د ستونزو دحل او سولي ته د رسیدو لپاره هڅي ونه کړي، کیدای شي موږ د سولي د شعار په اوریدو د یوې بلي جګړې د پیلامي شاهد و اوسو.
نظرمحمد مطمئن
لیکوال او شنناند